مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۱۱/۱۲

# درنو پښتنو،

د پښتو ژبې په اړه د بې‌صلاحیته وګړیو په بې‌ښټه څرګندونو مه‌احساساتي کېږئ. دا ورځې له مبهمو او مرموزو ادرسونو څخه د پښتو ژبې د تاریخ او پوهنیزې بډایښې په اړه داسې کسان له عصبیت ډکې څرګندونې کوي، چې هېڅ‌راز اکاډمیک او علمي صلاحیت نه‌لري.

څرګنده ده، چې د دوی ریښې له ځینو پردیو سرچینو خړوبیږي، ځکه د افغانستان د قومونو او فرهنګونو ترمنځ د شخړو پېښول د دغو دوښمنو کړیو اجنډا ده.

پښتو ژبه نه د دغو نالوستیو په وینا سپکیږي او نه د ناعلمي او بې‌خبرو احساساتي غبرګونونو په مټ درنیږي . پر پښتو ژبه، تاریخ، ادبیاتو او ولسي پانګه د ډېرو لوی نړیوالو اکاډمیکو بنسټونو او پوهانو له خوا مستندې څېړنې شوي او کیږي چې هماغه کافي دي .

د پښتو ژبې په اړه که له ستر خوشال، حمید، شیدا، روښان، غني و مجروح او لس‌هاوو نورو درنو ادب‌ستو راتېرشو د نړۍ په هېڅ ژبه کې د لنډې، غاړو، د ملي هینداري د نکلونو سیال نه‌شته. دا زمور خبرې نه‌دي، د فرانسوي جېمز دارمستېتر، امریکایی البرٹ ګریسوالډ، نارویژي جورج مورګن‌ستېرنه، ډنمارکي کلاوس فردیناند او نورو لوی لوی پوهانو نظرونه دي، چې په پښتو لنډیو کې یو عالم مینه، عواطف، تفکر او هغه انساني ارزښتونه په خورا هنري ژبه موندلای شئ، چې که پښتو او پښتانه بل هېڅ ادبي ځېل ونه‌لري همدا لنډۍ یې د ټولې نړۍ له ادبیاتو سره سیالي کوي.

اکاډمیک بنسټونه داسې وایي، خو له عصبیته رنځېدونکي وګړي غواړي په هوایي څرګندونو خپګان او غوسه پېښه کړي او بیا د افغانستان وروڼه قومونه سره خوابدي کړي.

غبرګون په دوه دلیلونو نه‌دی پکار:

۱ -دا څرګندوني دومره ناعلمي او نااکاډمیکي دي، چې په غبرګون نه ارزي. که دا څرګندوني د علمي څېړنو په پایله کې شوې وای، بیا به یې متخصصو څېړونکیو وړ ځواب خامخا ویلی وای.

۲ -غبرګون ښوول د دوښمن ژرندې ته اوبه ورپرېښول دي، ځکه هغوی غواړي همدا چې شخړه پېښه کړي.

زما دا لیکنه هم هیڅا ته غبرګون نه‌دی، بلکې پښتنو ته یوه سپارښتنه ده، چې ارام، ډاډمن او په ساړه ټټر خپل فرهنګ پیاوړی کړئ، خپله ژبه وپالئ، علمي ژباړې وکړئ، هنري اثار وپنځوئ، خپل ولسي ادبیات راټول کړئ او پښتو په پوهه و هنر هسکه وساتئ!

د دې وطن د ټولو ژبو ارزښتونو زمور دي، بلخي مولانا، غزنوي سنایي، بلخي ابن سینا او البیروني هم زمور دي . هېڅ ژبه د نورو ژبو په سپکاوي او ښکنځلو نه‌پیاوړې کیږي.

ژبه کار غواړي.

پښتو ژبې په څو پېړیو کې د زریزو مزل کړی او همداسې به مخ پرهسک ځي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ